آصف صمیم

۲۰۲۲/۰۳/۱۴



# د ښاغلي نادر پیرزوینی



۱۳۸۲ کال د قوس میاشت ۱۳ هغه تقریظ چی زما په دیوان چي لا تر اوسه د ځینو بی ارزیو له وجهی چاپ شوی نه دی .قدرمن استاد آصف صمیم لیکلی
سید عبیدالله نادر

ښاغلی **عبیدالله نادر** زمونږ په هجری ادبیاتو او مطبوعاتو کې ، یو آشنا نوم دی ،چي همیشه يي د ملي برخلیک په سمون د قلم اوښکي څڅولي ،او په نظم و نثر دواړو په بهير کې يی پر اولس ژړلي دي ،افغاني مطبوغات چی یی هر چيری موندلی او هر ځای په لاس ورغلی خپل سینه سوی آهونه یی ورته د ملي پیغام په دود ورته سپارلي ، چي د سوړ زړود سینوساړه تنزونه پری تاوده کړي ، دا مخي ته پرته ټولګه د ښاغلي نادر د همدغه راز آهونواو څریکو یوه ژوندی بیلګه ده ،چي دا دی خپل اولس او خوږمنوادب مینو ته یی وړاندی کوی .د ښاغلی نادر دا ټولګه چې ، زیاتره د اخلاقي روزنی ملي دردونواو ملی یو والي د اړتیا د احساس پیغام لری که جولي یا شکل له پلوه د هنري ارزښت لوړو پوړیو ته نه رسی .خو د پیغام ریښتیا ییپنه او او صداقت یی لوستوال ډاډمنوی ،چي دا له یوه ځپیڅلي او پر ملی یو والی او ملی خپلواکی مین زړه نه راوتي کوکي دي ، چي زمونږ ښاغلي قلموال پری د وخت د سیاسي او جنګي ماشین د چلونکو غوږونه کڼه ول غواړي ،ښاغلی شاعر په هغو سیاسي نازولو ځولي ګرځوی .چي یي د کرامت نظردخپل ځوریدلی او رنځیدلی اولس د سولی او سوکالۍ له پاره کافی شافی ګڼي لکه عرض چي وشو ،د دغی ټولګي ټوله میځ پانګه د کره کتونکیو ټولی پښتني غوښتنی او د کره کتني یا هنری ځانګړینو ټول آرونه او ارزښتونه نه شي رانغاړلای او جولیزی کمزوری او نیمګړی به هرو مرو په کې تر سترګو شي ، خو دی که له یوی خوا په خپلی دغي اورپینی سره خپله ادبی تنده ماتول غواړی ،نو د بلخوا د خپلو ملی دردونواو ناخوالو سیند په یوه نیم بنده هنری ګوټ وچول هم غواړي ،زه په داسی حال کی چی ښاغلی عبیدالله نادر ته د ده د هنری بر تک او په هنر کې د مسیحایی اغیزد پیدا کیدوله پاره لاس په دعا یم ،دا وړاندیز هم مخی ته وروړدم ،چې لږ تر لږه دي د خپل هنری لوړ تیا له پاره هم د ځان ارزونی له ترخه حقیقت او اړتیا سره د یارانۍ دود وپالي چي په دي توګه یی هم د زغم او سینی اوږده ،او هم زیات شی ،او د کره کتونکیو د ګوتنیوۍ او ځیړنی چار ته هم درانه وکسی ،د دي لمړی ټولګی په راوتو یی د مبارکۍ وړ بولم.

**په نمانځنه محمد آصف صمیم ۱۳۸۲/۹/۱۳**





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنی د لیکنيزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

## ياهو

که مونږ د تخنيک په ميدان کې ،د تجاربو د پايلو په لړ کې د خورا هوسايني او آسانتياووخاوندان شوی يو ،چي په اصطلاح د مکان او زمان تر مينځ په مليونونو اوږود واټن مو ساعتونو او دقيقو ته رالنډ کړی ،نو د معنوياتو په ميدان کې هم زمونږ د بشری تکامل لړۍ د فرهنګ له لاری غزيږي ، او شعر هم د فرهنګ په اجزاووکې راځي .په دي توګه د انساني رسالت د سالميت مسئله په نوروولاروسر بيره د شعر په توګه هم څاريدای شی .
شاعر هغه څه يا هغه ټولنه غواړي چي په حقيقت کې بايد (وای) خو په واقيعيت هغسی ټولنه (نشته)او په دي توګه دغسی غوښتنه چي د جامعی د معنوی ارتفاع له پاره له شاعر سره پيدا شوی په بيرونی نړۍ کی ورته د ځواب او رامينځ ته کيدو په لار کې شتو خنډونو هغه څه چی بايد (وای)او اوس (نشته)ناشونی کړی دي .داسی نور ډير احساسات هم شته چی په تحت الشعور کې په سر ټپيدلي وي ،يا وټپيږي .نو د يو ريښتيني پيغام په توګه په شعر کې انځور کيږي د شاعر په تحت الشعورکې دغه ټولي رد شوی غوښتني بيلا بيل ډولونه لری .کله حماسيوعشقی،تصوفی،مذهبی،او کله کله په نورو ډولونو وي .
که چيری و پوښتو چی د شاعر دا رنګه ښتني څوک ځوبولای شی ؟
دغه پوښتنه چی که چيری په څه ځير سره ورته وګورو نو لا چار داسی ځواب ځانته ووايو ،چي دي پوښتني ته ټلنه او ټولنوال ځواب نه شي ويلای بلکه د نوموړي شعردي ته ځواب وايي ځکه ټولنه په ټولنوال يا په کې رامينځته کيدونکي تغيرات د فطرت پوری تړلي دي ، ياني په فطری توګه به انسان زيږي ،لوييږي ،بوډا کيږي، او باالاخره مری ،يا لمر په سهار راخيژی ماښام به ډوبيږي ، او يا هم دا چي،زيږيدلی انسان به د نورو نورو بدلونونو او تغيراتو لامل شي ،چي هغه هم له آره تر فطرت پوری تړلي ده ،ځکه دا د انسان فطرت دی ، چی دی به کار کوی او د کار په پايله کې ،طبعآ تغير رامينځ ته کيږي ،نو پوښتلای شو چی ،د شاعر غوښتني ته فطرت هم بشپړ ځواب ونه شو ويلای ،بيا ولی شاعر د فطرت په مقابلی مبارزه کوي ،آيا د فطرت په وړاندی مبارزه به ليونتوب نه وي ؟ داسي پوښتنو ته به لوستونکي بيلا بيل ځوابونه ووايي ،او ممکن زيات به يی سم او پر ځای وي ،خو زما په اند ،دلته د فنکار مقام يا دشاعر مرتبه په اصطلاح تر فطرته هم ، لوړه او عالي بريښي ، ياني شاعر غواړي فطرت بشپړ کړي ، همدا لامل دی چي شاعر غواړي چی داسي ټولنه رامينځ ته شي چی بايد (وای)خو په واقيعيت کی (نشته)نو د فطرت د دغه نيمګړی نړۍ د بشپړ تيا له پاره سر په زنګانه شوی . اقبال لاهوری وايي چي :

**فطرت نهين اګرچه عاجز**
**جو اوس سی نه هوا ، توکر**

ژباړه :که څه هم فطرت بی وسه نه دی ،خو چی څه له فطرته پوره نه وي نو ته يی بشپړ کړه .اقبال لاهوری د فنکار يا د شاعر مقام ته په داسی مرتبه قايليږي چی په اصطلاح د فطرت د نيمګړتياوو په بشپړاوی بوخت دی ، او غواړي چی يوه داسی ټولنه رامينځ ته شي چی په هغی کې ، د نيمګړتيا تصور يوه له امکانه ليری خبره وي ،نو د شعر نړۍ ته پناه وړي ،او په حل پسی يی ګرځي ، ځکه شاعر د يو تيوريسن په توګه د ښی او هوسا ټولني لوړاوی اوعظمت د ښو صفاتو ښکلا د زيږونی څرنګوالۍ راښايي او راشولی، چی په دي سره يی نيم کار سر ته رسولی ، او دا نو دنورو کار دی چی دي ته د عمل جامه واغوندي ،او همغي ټولنه رامينځ ته کړي چي شاعر يی غواړي .کيسه رانه فلسفی خواته لاړه ، او په تقريظ يا سريزه کې به نه پوهيږم چی دا ډول خبرو ته اجازه وي کنه ؟ خو تمه می دا ده چي لوستوال به می وبښي په هره توګه د سيد عبيدالله نادر اشعار هم ،د داسي يو په سر ټپيدلي احساس په پايله کې رامينځته شوی ،نادر صاحب خپله ټولنه ډيره دقيقه مطالعه کړی ، د دي دردونه يي احساس کړي او دهغی په رغونه کې يي فکر کړی .او په نتيجه کې يي په حقايقو سمبال پيغامونه پريښي د بيلګي په توګه دنوموړي لاندی شعر کې وينو چی وايي :

## د سولي فرشته

**ته انسان يی ، نمونه د کرامت يي — يو شهکار د عظمتونو، د قدرت يي**
**د هوی او د هوس سره په جنګ يی — ته پيکر د خواهشاتو د شهوت يي**
**تا ته يی نفس د امتحان د پاره در کړ — دغه ديو ته که تسلسم شوی ، ملامت يی**
**امانت بارونه ، تا ته سپارل شوی — ته مسئول د ستر هدف او رسالت يی**

**ته ماليار يي د خـــالق، په دغـــه بڼ کې          ته باعث د دي چمــن ، د طـــــراوت يی**
**ته دامن او د ســـولي فرشـــــــــته يی**
**ته حامی د دي وګـــړو، د عـــزت يي**

نادر صيب د بشری اصالت هغو ټکو ته پام کړی، چي د يوی ټولني د رفاه په لار کې د بنسټ په توګه ياديدلای شي ،د بيلګی په توګه د نومړی لاندی شعر ته ګورو.

## د معرفت ډيوی

**له ښــاره وځـــم ويرانو کـــې، يو انســان لټوم          د خـپل دردمـن زړګي د پاره مي ، درمللان لټوم**
**چي په وينـا يی، روښـــانيږي، کـوردلانو زړونه          په رمـوزاتو بانلالدی پـوی ، صاحـبدلان لټوم**
**چی په ليدويی د انســان، روح او روان شی تازه          زه هغه دُر ،هللغـه ياقوت ، هغـه مرجان لټوم**
**چی په موزون کلام کړي وئيلی سنګدلانوزړونه          خللاوند دحـال او نـکته سنجه ، سخـندان لټوم**
**هغه مانوس چی په،اسرارو باندی پوی شـی دژوند          د زړه په درد ،داســي آشنــا او راز دان لټوم**
**چي د کلـنو تربګـنيو، دښمـنان کړي ، پخـلا          داسي خوږمن، په زړه دردمن ،او مهربان لټوم**
**چي راته وبښي د زړه، او دضـمير روښـنايي          د مـــعرفت په ډيوی ســوی ، پټنـګان لټوم**
**چی د حکمت خبری واورم ، د عبرت په غوږو          د بوعلی په څير ، په پوهـه ،حکـمتدان لټوم**
**چې د حکمت څلی يي ، جګه په آسمـان لـګيږي          زه هغه باز، هغـه شـاهين، هغـه طيران لټوم**
**هرخوا چی ګورمه ديوان دي په صورت د انســان          د معـنويت په نور ، سپيڅلی مخ روښـان لټوم**
**د نفس هـوی، په ګوندو کړي،قـافلی ســالاران          هــوی دنفس باندی غـــالب پهـــلوانان لټوم**
**ډير زهيرکړی،دي ژوندون يمــه ديوانـــو سره          د يوريښتـنـي ژوند دپـاره ، بل جهان لټـوم**
**داچې په سپـــينه ورځ کې ســـر،په ويرانو يمه زه**
**له څنـــګه تللی ، د افسوس هـغـه کـــارون لټوم**

زه له ډير پخوا ، د نادر صاحب  له اشعارو سره بلد وم ،په مطبوعاتو کې می لوستلي وو.خو دا راته نه وه معلومه چي وتيزوزنځيرونو، د نادر صيب د شعر کوتری له پښو تړلي او نه پريږدي چی د ديوان په توګه د چاپ په بلۍ کينی مګر کله چي خبر شوم ،چی متي يي رابډوهلی دي ،او غواړي چي د نادر شعرونو ته وزری ورکړي ، او دلوستوال د ذهن په بلۍ يی کښينوی ، خدای شته ډير خوښ شوم .خدای دي زمونږ پښتنی فرهنګ له پاره داسي پياوړي او با احساسه پښتانه ژوندي لری ،چی تر ډيره پری زمونږ پښتنی فرهنګ او ادب و وياړي،زه له نادر صيب سره په ډيرو مجالسو کې ناست يم ، په نومړي کې می ټول هغه صفات ليدلي چي شهيد سيد حسن شيون درلودل .د نادر صيب احساس او له خپل فرهنګ سره اورنۍ مينه او په دي لار کې ځانګړی لګښتونه د ډيری ستاينې وړ ده . زه پوهيږم چی نادر صيب په ډيرو ستاينو نه خوښيږي ،او زه به هم ورته شايد معلوم يم ،چې په سريزو کې د ډيرو ستاينو پلوی نه يم .خو دا د نادر صيب لومړنی اثر دی .چی د چاپ له ستونی تيريږي ،ځکه يي کره کتنه لوستونکيو او نورو ليکوالو ته پريږدم ، او تاسی درانه لوستونکي هم د ځان په څير په مينه د دي اثر لوستولو ته رابولم .

**په ټوله پښتني مينه قاضی سيد اختيار (سباوون کابل افغانستان )  ۱۳۸۱/۱۰/۲۶**



---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولۍ